د خیبر لاره د تلو اود راتلو دي
په کا بل او پیښور کي افغان یو دي
***

# لر اوبر

لراوبر پښتون په کرښو نه بیلیږي
د یورند کرښه د افغا ن هیڅ نه قبلیږي
دګونګوټو خواری هسی د پاکستان دي
د میرویس احمد ټبر نه سره جدا کیږي
دا څو دلي مجا هد ، طا لب داعشو
نن سبا د دغو مخ له یو سره زر توریږي
پاکستان دي په دي زړه چندان خوښ نکړي
کوږ بار هیڅو خت تر مزله نه رسیږي
پښتون نه مني د بل واک او ا ختیار
پنجا بیا نو لا تر اوسه نه پوهیږی
ښه به دا وی چي پوښتنه له انګریز کړي
چي افغا ن له آزادي خپل نه تیریږي
کوز اوبر پښتون لاسونه سره یو کړي
بیره وکړی چي و خت زر زر تیریږی
د ا فغا ن بیرغ رپا نده په اټک کړي
دا غزن سیما ن کړي لیری مه خواریږی
خپله توره یوځل بیا ټولو ته ښکاره کړي
چي دافغان سر هیڅ بل څواک ته نه ټیټیږي

**پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل» - 7-06-2021